بسم الله الرحمن الرحیم

سر یال نمبر: 386

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# ډیره اسماعیل خان: د سکیورټي فورسز په کامیاب عملیاتو کښې د مطلوب ترهګر مشر رمضان عرف پارکي وژلو شوی

څو ورځې وړاندې د ډیره اسماعیل خان په روړي سیمه کې امنیتي ځواکونو د خوارج د شتون په اړه د پټو معلوماتو په اساس د عملیاتو پر مهال د ترهګرو مرکز محاصره کړ. د ډزو په تبادله کې ترهګر اسامه ووژل شوی وو، په داسې حال کې چې د ترهګرو مشر رمضان عرف پراکی په ګډون څو تنه ترهګر له سختو ټپونو سره تښتېدلي وو.

**د باوري سرچینو په وینا، په عملیاتو کې د تروریستانو د خورا مطلوب مشر رمضان عرف پراکی او ترهګر انعام په ګډون دوه نور ترهګر چې سخت ژوبل شوي وو، مړه شوي دي**



**وژل شوی ترهګر مشر رمضان عرف پراکے په ډیره اسماعیل خان، ټانک او قبایلي سیمو کې په ګڼو ترهګریزو عملیاتو کې مطلوب و او په وروستیو وختونو کې له ځایي خلکو نه بهته اخیستو کې لاس درلود. البته، د ترهګرو د مشر رمضان عرف پراکی مړینه د ټی ټی پی لپاره یو بل لوی ګوزار دی.**

په ډیره اسماعیل خان او قبایلي سیمو کې د امنیتي ځواکونو د موثرو عملیاتو او غوره تګلارې له وجې د ټي ټي پي ملا مات شوی او ترهګرو ته یې د پټیدو هیڅ موقع نه ده ورکړې او د مهمو مشرانو په شمول د په لوي تعداد سره خوارج د وژلو لړۍ دوام لري.